# د قُرآني
# سُورتونو فضائل

پښتو



شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرتِ علّامه مولانا ابُو بلال

## مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د قُرآني سُورتونو فضائل

دُعائے عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رِساله ”د قُرآني سُورتونو فضائل“ اولولي یا ئې واوري هغه ته په ورځ د قیامت د قُرآنِ کریم شفاعت نصیب کړې او هغه بے حسابه اُوبخښې۔ اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

حضرت محمد بِن عبدُ الله خیام سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یوه ورځ زما نه لاره هیره شوه، ناڅاپه مې یو صاحب اولیدلو هغوئي زه ځان سره کړم. زما ګمان شو چې دا **حضرت خِضَر** عَلَیْهِ السَّلَام دے. ما ترینه تپوس اوکړو نو هغوئي خپل نوم **خِضَر** اوښودلو، یو بل بُزُرګ هم ورسره وو، د هغوئي د نوم تپوس مې اوکړو نو اوئې فرمائیل: دا **حضرت اِلیاس** عَلَیْهِ السَّلَام دے. ما عرض اوکړو: **الله** پاك دِې په تاسو رحم اوفرمائي، آیا تاسو د **الله** پاک د آخري نبي حضرت **مُحَمَّدِ عَرَبی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کړے دے؟ په جواب کښې ئې اُوفرمائیل: آو، نو ما عرض اوکړو: د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوریدلے یو حدیثِ مبارك راته بیان کړئ چې زه ئې ستاسو نه روایت کړم. هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائیل: د رسولِ خُدا **مُحَمَّدِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: څوک چې په ما دُرُودِ پاك اولولي د هغه زړه د نِفاق نه داسې پاك کړے شي څنګه چې په اوبو کپړه پاك کیږي او څوک چې صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد اُووائي نو هغه په خپل ځان د رحمت اویا دروازے بیرته کړي. (اَلْقَوْلُ الْبَدِیع ص۲۷۷، جَذْبُ الْقُلُوب ص۲۳۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ✿✿✿ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# واه څه به وائې د عاشقِ قرآن

حضرتِ سَیِّدُنا ثابت بُناني رحمۃُ اللہِ علیہ به هره ورځ یو ځل قرآنِ پاك ختمولو او همیشه به ئې د ورځې روژه نیوله او ټوله شپه به ئې قِیام (یعني عبادت) کولو، په کوم جُمات به چې تیریدلو دوه رکعاته (تَحِیَّةُ الْمَسْجِد) به ئې پکښې ضرور ادا کول. د تحدیثِ نَعمت په طور فرمائي: ما د جامع مسجد هرې ستنې خوا ته قرآنِ پاك ختم کړے دے او بارګاهِ اِلٰهي کښې مې ژړا کړې ده. هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ لـمانځه او تلاوت سره خصوصي مَحبَّت لرلو، هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ باندې یو داسې کرم اوشو چې رَشك [یعني رخه] پرې راځي چنانچه د خخولو وخت کښې ناڅاپه یوه خښته اوښویدله او [قَبْر ته] دننه لاړه، چې خلق خښته راویستلو د پاره ورښکته شو نو حیران پاتې شو څه ګوري چې هغوئی رحمۃُ اللہِ علیہ **قَبْر کښې په لـمانځه ولاړ دے!** د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ د کور والؤ نه چې معلومات اوکړے شو نو لُور صاحبې اُووئیل: والد صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ به هره ورځ دُعا کوله: "**یا الله** عَزَّوَجَلَّ! که ته چا ته د وفات نه پس قَبْر کښې د لـمانځه کولو سعادت ورکوے نو ما ته هُم دا سعادت راکړې." منقُول دي چې کله به هُم خلق د هغوئي د مزار شریف په خوا تیریدل نو قَبْرِ انور نه به د تلاوتِ قرآن آواز راتللو. (حِلیَةُ الاَولیاء ج۲، ص۳۶۲، ۳۶۶ مُلتقطاً) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمین بِجاهِ النَّبِیِّ الْاَمین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ذہن مَیلا نہیں ہوتا بدن مَیلا نہیں ہوتا
خدا کے اولیا کا تو کفن مَیلا نہیں ہوتا

نه ئې مخ نه ئې بدن کله خړیږي          د اولیاء الله نه کـفن کله خړیږي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په يو حَرف لس نيكۍ

قرآنِ مجيد فُرقانِ حَمِيد د الله رَبُّ الانام عَزَّوَجَلَّ مبارك كلام دے، د دې تلاوت كول، چا ته لوستل او اوريدل ټول د ثواب كارونه دي. د قرآنِ پاك يو حَرف لوستلو باندې د لسو نيكو ثواب حاصليږي. چنانچه سَيِّدُ الْمُرْسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيِّين، جنابِ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "څوك چې د كتابُ الله يو حَرف لوَلي هغه ته به يوه نيكي وركوله كيږي كومه چې د لسو برابره وي. زه دا نه وايم چې الٓمّٓ يو حَرف دے، بلكه اِلِف يو حَرف، لام يو حَرف او مِيم يو حَرف دے." (سُنَنُ التِّرمِذِی ج٤ ص٤١٧ حديث٢٩١٩)

تلاوت کی توفیق دیدے یاالٰہی
گناہوں کی ہو دور دل سے سیاہی

د تـلاوت تـوفيق راكـړې يا اِلٰهي ‏ ‏ ‏ ‏ زما زړه نه لرې كړه د ګناه سياهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سُوْرَةُ الْحَشر د آخري آيتونو د لوستلو فضيلت

د حضرتِ سيِّدُنا معقل بِن يسار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې نبيِّ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې د سحر په وخت كښې درې ځله "اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ" اولولي او د سُوْرَةُ الحشر آخري درې آيتونه اولولي نو اللّٰه تَعَالٰی د هغه د پاره اَويا زره فرښتے مقررې كړي چې هغه تر ماښامه پورې د هغه د پاره دُعائے رحمت كوي او كه په هغه ورځ مړ شي نو شهيد به وي او كه ماښام ئې اولولي نو د سحره پورې هُم دا فضيلت دے. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج٤ ص٤٢٣ حديث٢٩٣١)

## د سُوْرَةُ الْحَشر آخري آيتونه

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَیْمِنُ الْعَزِیْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی ؕ یُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿۲۴﴾ (پ۲۸، الحشر ۲۲، ۲۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ”کَرَم“ د درې حُروفو په نِسبت د سُوْرَةُ الْبَقَرة د آخري آيتونو د لوستلو ۳ فضائِل

(۱) د حضرتِ سیِّدُنا نُعمان بِن بشير رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې شهنشاهِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **اللّٰه** تَعَالٰی د زمکې او آسمانونو د پيدا کولو نه دوه زره کاله مخکښې يو کتاب اوليکلو بيا ئې د هغې نه **د سُوْرَةُ الْبَقَرة آخري دوه آيتونه** نازل کړل. په کوم کور کښې چې درې شپې دا **دوه آيتونه** اولوستلے شي شيطان به هغه کور ته نزدے نه راځي.

(سُنَنُ التِّرمِذِی ج ٤ ص٤٠٤ حديث٢٨٩١)

(۲) د حضرتِ سیِّدُنا ابوذر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چې د نبيانو سردار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د سُوْرَةُ الْبَقَره د خاتمے [يعني آخري] دوه آيتونه د **اللّٰه** تَعَالٰی د هغه خزانې نه دي کومه

چې د عرش نه لاندې ده الله تَعَالٰی ما ته دا دواړه آیتونه راکړل، دا زده کړئ او خپلو زنانو ته ئې زده کړئ ځکه چې هغه [آیتونه] رحمت دي او الله تَعَالٰی ته نزدیکت او دُعا دي.

(دارمی ج۲، ص۵٤۲، حدیث۳۳۹)

(۳) د حضرتِ سیّدُنا ابو مسعُود رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے چې حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې د سُورَةُالبَقَره آخري دوه آیتونه د شپې لوَلي هغه به هغه ته کفایت کوي.

(صحیح البُخاری ج۳، ص٤۰۵، حدیث۵۰۰۹)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **سُورَةُالبَقَره** د دوه آیتونو د کفایت نه مُراد دا دے چې دا دوه آیتونه به د هغه د هُغه شپې د قیام (یعني د شپې د عِبادت) قائم مُقام شي یا به په هغه شپه هغه د شیطان نه حفاظت کښې ساتي. یو قول دا هم دے چې په هُغه شپه نازلیدو والا آفتونو نه به ئې بچ کوي. **وَاللہُ تَعَالٰی اَعۡلَمُ** (فتح البارى ج۹ ص٤۸) (د سُورَةُالبَقَرَة آخري دوې آیتونه دا دي)

اٰمَنَ الرَّسُوۡلُ بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَیۡهِ مِنۡ رَّبِّهٖ وَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ ؕ کُلٌّ

رسول ایمان راوړو په هغې څه چې د هغه د رب له طرفه په هغه نازِل شو او د ایمان خاوندانو. ټولو

اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَ کُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ ۟ لَا نُفَرِّقُ بَیۡنَ اَحَدٍ

الله او د هغه فرښتې او د هغه کتابونه او د هغه رسولان اُومنل، داسې چې مونږه د هغه په یو رسول باندې هم په

مِّنۡ رُّسُلِهٖ ۟ وَ قَالُوۡا سَمِعۡنَا وَ اَطَعۡنَا ٭۫ غُفۡرَانَکَ رَبَّنَا

ایمان راوړو کښې فرق نه کوو، او عرض ئې اوکړو چې مونږه واوریدل او اُومنل، ستا [له طرفه] بخښنه دِ وي،

وَ اِلَیۡکَ الۡمَصِیۡرُ ﴿۲۸۵﴾ لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفۡسًا اِلَّا وُسۡعَهَا ؕ

اے زمونږه ربه او هُم ستا په لور ګرځیدل دي. الله په هیڅ چا بوج نه اچوي خو د هغه د توان [طاقت] هُمره.

لَهَا مَا کَسَبَتۡ وَ عَلَیۡهَا مَا اکۡتَسَبَتۡ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَاۤ

د هغه فائِده ده چا چې نیکي اُوکړله، او د هغه نقصان دے چا چې بدي اوکړله، اے زمونږه ربه مونږه مه نیسه

إِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَ لَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ

که مونږه په هیره یا په خطا څه اوکړو، اے زمونږه ربه او په مونږه دروند بوج مه اچوه څنګه چې تا زمونږه نه

عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَ لَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ

مخکښو باندې اچولے وو، اے زمونږه ربه او په مونږه هغه بوج مه اچوه چې مونږه ئې توان [طاقت] نه لرو،

وَ اعْفُ عَنَّا ۥ وَ اغْفِرْ لَنَا ۥ وَ ارْحَمْنَا ۥ اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا

او مونږه معاف کړه، او مونږه اوبخښه، او په مونږه رحم اوکړه، ته زمونږه مولٰى ئې مونږ ته په

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾ (پ۳، البقرة: ۲۸۵، ۲۸۶)

کافرو [یعني د کافرو خلاف] مدد راکړې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”رَحمت“ د څلورو حُروفو په نِسبت د سُوْرَةُ الفَاتِحَه ٤ فضائِل

(۱) حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې سُوْرَةُ الفَاتِحَه د هر مرض دوا [یعني علاج] دے. (سُنَنُ الدّارمی ج۲، ص۳۳۷، حدیث۵۳۸)

(۲) په مسند دارمي کښې دي چې ۱۰۰ ځله سُوْرَةُ الفَاتِحَه اولوستله شي او څه دُعا اوکړے شي هغه اللّٰه تَعَالٰى قبلوي. (جنّتی زیور ص۵۸۷)

(۳) بزرګانو فرمائيلي دي چې د سحر د سُنَّتو او فرضو په مینځ کښې ٤١ ځله سُوْرَةُ الفَاتِحَه اولوستلے شي او مريض پرې دم کړے شي نو آرام ئې راځي او د سترګې درد ورسره ډير زر ښه کيږي او که دومره [یعني ٤١ ځله] اولولي او خپلي لاړے په سترګو اولګوي نو ډير فائده مند دي (اَیضاً ص۵۸۷)

(٤) ووه ورځو پورې هره ورځ يوولس زره ځله صرف دومره لوَلئ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ؕ اول آخر درې درې ځله دُرُود شريف هُم لولئ د **بيمارو** او **مصيبتونو** لرې كولو د پاره ډير زيات مُجَرَّب [يعني تجربه شوے] عمل دے. (جنَّتي زيور ص٥٨٨)

## د ”رحمت“ د څلورو حُرُوفو په نسبت د سُوْرَةُ الْكَهْف ٤ فضائل

(١) **حضرتِ** سيِّدُنا براء بِن عازِب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چې يو كس د **سُوْرَةُ الْكَهْف** تلاوت كولو، د هغوئي په كور كښې يو ځاروے تړلے شوے وو، ناڅاپه هغه اوتريدو. هغه كس اوليدو چې هغه يوے ورِيَځې پټ كړے دے. هغه كس حُضُورِ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا واقعه بيان كړه نو نبيِّ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے فلانكيه تلاوت كوه، ځكه چې دا سكينه [يعني سُكون] دے كوم چې د تلاوت كولو وخت كښې نازليږي. (صحيح مُسلِم ص٣٩٩، حديث٧٩٥)

(٢) د **حضرتِ** سيِّدُنا مُعاذ بِن اَنَس جُهَنِّي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوك چې د **سُوْرَةُ الْكَهْف** د شروع او آخر نه تلاوت اوكړي د هغه د سر نه واخله تر شپو پورې به **نُور** او **نُور** وي، او څوك چې د دې پوره تِلاوت اوكړي، د هغه د پاره به د آسمان او زمكې تر مينځه **نُور** وي.

(اَلْمُسند لِلْاِمام اَحمد بن حنبل حديث معاذ بن انيس الحديث ١٥٦٢٦ ج٥، ص٣١١)

(٣) حضرتِ سيِّدُنا ابُو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې نبيِّ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”څوك چې د **جُمُعے** په ورځ **سُوْرَةُ الْكَهْف** اولولي د هغه د پاره د دوو **جُمُعو** د مينځه يو **نُور** روښانه كړے شي.“ په يو رِوايت كښې دي: ”څوك ئې چې د **جُمُعے** په شپه اولولي د هغه او د بيتُ العتيق (يعني كعبةُالله شريف) د مينځه يو **نُور** روښانه كړے شي.“

(شُعَبُ الْاِيمان ج٢، ص٤٧٤ حديث٢٤٤٤)

(٤) د **حضرتِ** سيِّدُنا اِبُو درداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې، نبيِّ کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې د **سُورَةُالْکَهْف** اولني لس آيتونه ياد کړي، د دجَّال نه به **محفوظه** اوسي. (صحيح مُسلِم ص٤٠٤، حديث٨٠٩)

## "د يٰسِين شريف برکتونه" د شپاړسو حُروفو په نِسبت د سُوْرَۀيٰسٓ شريف ١٦ فضائِل

(١) د حضرتِ سيِّدُنا مَعقِل بن يسار رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې سردار د مدينے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **سُوْرَۀيٰسٓ د قُرآن زړه** دے. څوك چې دا د **اللّٰه** **تَعَالٰى** د رضا او د آخرت د بهترئ د پاره لوَلي د هغه **بخښنه** به اوکړے شي. (اَلْمُسنَدُ لِلاِمام اَحمد بِن حَنبَل ج٧، ص٢٨٦ حديث٢٠٣٢٢ ملتقطاً)

(٢) د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه د هر څيز يو زړه دے او **د قُرآن زړه** **سُوْرَۀيٰسٓ** دے او څوك چې يو ځل **سُوْرَۀ يٰسٓ** اولولي د هغه د پاره لس ځله د قُرآن لوستلو **ثواب** اوليکلے شي.(سُنَنُ التِّرمِذِی ج٤، ص٤٠٦، حديث٢٨٩٦)

(٣) د حضرتِ سيِّدُنا حَسَّان بِن عطيه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے، چې مَکِّـي مَدَني سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په تورات کښې د سُوْرَۀيٰسٓ نوم **مُعِمَّةٌ** دے، ځکه چې دا خپل لوستونکي ته د دُنيا او آخرت هره **ښيګړه** ورکوي. او د دُنيا او آخرت بلاګاني [يعني مصيبتونه] ترينه لرې کوي. او د دُنيا او آخِرت د سختو نه **خلاصے** ورکوي او د دې نوم **مُدَافِعَةُ الْقَاضِيَة** هُم دے، ځکه چې دا د خپل تلاوت کوونکي نه هره بدي لرې کوي او د هغه هر حاجت پوره کوي، چا چې د دې تلاوت اوکړو دا د هغه د پاره د شلو حجونو هُمره دے، او چا چې دا اوليکو او بيا ئې اوڅښلو نو د هغه خيټې ته به زر دوايانې، زر

نورونه، زر یقینونه، زر برکتونه او زر رحمتونه داخِل شي او د هغه نه به هره **دوکه** او هره **بیماري** لرې شي. (الدُّرُ الْمَنْثُور ج۷، ص۳۷)

(٤) د **حضرتِ** سیِّدُنا اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡھُمَا نه رِوایت دے چې نبِیِّ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: زما **خواهش** دے چې سُوْرَۂ یٰسٓ زما د اُمَّت د هر انسان په زړه کښې وي. (اَیضاً ص۳۸)

(٥) د **حضرتِ** سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دے چې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې همیشه هره شپه د سُوْرَۂ یٰسٓ تلاوت کولو، بیا مړ شو نو هغه به **شهید** مړ کیږي. (اَیضاً ص۳۸)

(٦) د **حضرتِ** سیِّدُنا عطا بِن ابو رِباح تابِعِی رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دے چې شهنشاهِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوك چې د ورځې په شروع کښې د سُوْرَۂ یٰسٓ تلاوت کوي، د هغه ټول حاجات به پوره کړے شي. (اَیضاً ص۳۸)

(٧) **حضرتِ** سیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: څوك چې د سحر په وخت کښې د سُوْرَۂ یٰسٓ تلاوت اوکړي د هغه ورځې **آساني** هغه ته د مابنامه پورې ورکړے شوه، او چا چې د شپې په شروع کښې د دې تلاوت اوکړو هغه ته د سحره پورې د هغه شپې **آساني** ورکړے شوه. (اَیضاً ص۳۸)

(٨) د **حضرتِ** سیِّدُنا مَعقِل بِن یسار رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دے چې بیشکه حُضُورِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: سُوْرَۂ یٰسٓ د قُرآن زړه دے څوك چې د دې سورة مبارك د **الله** تَعَالٰی او آخِرت د پاره تلاوت کوي، د هغه تیر شوي ګناهونه به اوبخښلے شي، نو تاسو د دې تِلاوت د خپلو مړ کیدو والا خوا ته کوئ. (اَیضاً ص۳۸)

(٩) د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُو درداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دے چې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د کوم یو مړ کیدو والا خوا ته چې سُوْرَۂ یٰسٓ لوستلے کیږي. **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په هغه باندې (د هغه رُوح قبض کولو کښې) **نرمي** فرمائي. (اَیضاً ص۳۸)

(۱۰) د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُو قِلابه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے، فرمائي: چا چې د سُوْرَۃُ یٰسٓ تلاوت اوکړو د هغه **بخښنه** اوشي. او چا چې د طعام په وخت کښې د هغې د کمئ په حالت کښې [د دې] تلاوت اوکړو نو هغه به هغه ته **کِفایت** کوي، او چا چې د کوم یو مړ کیدو والا خوا ته د دې تِلاوت اوکړو **اللہ** تَعَالٰی (په هغه) د مرګ په وخت کښې **نرمي** کوي او چا چې د کومې ښځې خوا سره د هغې د ماشوم پیدا کیدو په تنګئ [یعني تکلیف] کښې د سُوْرَۃُ یٰسٓ تلاوت اوکړو په هغې به آساني کیږي، او چا چې د دې تِلاوت اوکړو لکه هغه چې **یوولس ځله** د قُرآنِ پاك تِلاوت اوکړو، او د هر څیز د پاره زړه دے او د قُرآن زړه سُوْرَۃُ یٰسٓ دے. (اَیضاً ص۳۹)

(۱۱) **حضرتِ** سیِّدُنا ابو جعفر محمد بِن علي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے، فرمائي: څوك چې خپل زړه کښې **سختي** اووِیني نو هغه دِ په یوه پیاله کښې په زعفرانو یٰسٓ وَالْقُرْاٰنِ الْحَکِیْمِ اولیکي بیا دِ ئې اوڅښي. (اِنْ شَآءَاللّٰہ تَعَالٰی زړه به ئې نرم شي) (اَیضاً ص۳۹)

(۱۲) د **حضرتِ** سیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے چې سردار د مدینے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې هره **جُمُعه** د خپل مور او پلار، دواړو یا د یو د قبر زیارت اوکړو او د هغوئي [د قبر] خوا ته ئې د یٰسٓ تِلاوت اوکړو نو اللّٰه تَعَالٰی د هر حَرف په بدله کښې د هغه بخښنه او مغفرت فرمائي. (اَلدُّرالْمَنْثُور، ج۷، ص۴۰)

(۱۳) **حضرتِ** سیِّدُنا صفوان بِن عمرو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: مشائِخِ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم فرمائي: چې کله تاسو د قریبُ المَرګ [یعني د ځنکدن والا] کس خوا ته د سُوْرَۃُ یٰسٓ تِلاوت کوئ نو د هغه نه به **د مرګ سختي** سپکه کړے شي. (اَیضاً ص۳۹)

(۱٤) د حضرتِ سیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے چې د **اللہ** تَعَالٰی **محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د **جُمُعے** په شپه د سُوْرَۃُ یٰسٓ تلاوت اوکړو د هغه **بخښنه** اوکړے شي.

(اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج۱، ص۲۹۸ حدیث٤)

(۱۵) حضرتِ سیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا رِوایت کوي چې خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: په قُرآنِ حکیم کښې یو سُورت دے چې هغې ته د **اللّٰه** تَعَالٰی په نزد عظیم وئیلے کیږي، د هغې لوستونکي ته د **اللّٰه** تَعَالٰی په نزد **شریف** وئیلے کیږي، د دې لوستونکے به د قیامت په ورځ د ربیعه او مضر قبیلو [د خلقو د شمیر] نه زیاتو خلقو **شفاعت** کوي، هغه **سُوْرَۂ یٰسٓ** دے. (الدُّرُّ المَنثُور، ج۷، ص۴۰)

(۱۶) شیخُ الحدیث مولانا عبدُ المُصطفٰی اعظمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د "جَنَّتي زیور" په صفحه ۵۹٤ کښې د **سُوْرَۂ یٰسٓ** لوستلو ډیر برکتونه ښودلي دي:

﴿۱﴾ که اوږګے انسان دا اولولي نو آسوده [یعني موړ] به کړے شي ﴿۲﴾ که تږګے ئې اولولي نو سیراب به [یعني په اوبو به موړ] کړے شي. ﴿۳﴾ که بربنډ ئې اولولي نو لباس به ورکړے شي. ﴿٤﴾ که بے واده سړے ئې اولولي نو زر به ئې **واده** اوشي ﴿۵﴾ که بے خاونده ښځه ئې اولولي نو زر به ئې **واده** اوشي ﴿۵﴾ که بیمار ئې اولولي نو شِفا به مومي ﴿۷﴾ که قیدي ئې اولولي نو خلاصے به اومومي. ﴿۸﴾ که مسافر ئې اولولي نو په سفر کښې به ئې د **اللّٰه** تَعَالٰی له طرفه مدد اوکړے شي ﴿۹﴾ که غمګین ئې اولولي نو د هغه غم او درد به لرې شي ﴿۱۰﴾ د چا چې کوم یو څیز ورك شوے وي، هغه ئې اولولي نو څه چې ئې ورك شوي دي هغه به اومومي. د **سُوْرَۂ یٰسٓ** یو آیت سَلٰمٌ ۟ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ ﴿۵۸﴾ (آیت:۵۸) یو زر او څلور سوه او یو کم اویا [۱٤٦۹] ځله اولوله، اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د څه مقصد د پاره ئې چې اولولې مُراد به دِ پوره شي، خواجه "دیربـي" لیکي: دا مُجَرَّب [یعني تجربه شوے] دے او که سَلٰمٌ ۟ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ ﴿۵۸﴾ (آیت:۵۸) پینځه ځایه په یو کاغذ اولیکئ او تعویذ ترینه [جوړ کړئ] او واچوئ ئې نو د **حادثاتو** او **غَل** وغیره نه به په حفاظت کښې اوسئ، څوك چې سحر **سُوْرَۂ یٰسٓ** اولولي د هغه پوره ورځ به ښه تیریږي او څوك چې د شپې دا اولولي د هغه به پوره شپه ښه تیریږي. حدیث شریف کښې دي چې یٰسٓ د قُرآن زړه دے. (جَنَّتي زیور ص۵۹٤،۵۹۵)

## د ”دُعــا“ د درېِ حُروفـو په

## نِسبت د سُورَۃُالدُّخان ۳ فضائل

(۱) سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې په کومه شپه **سُورَۃُالدُّخَان** اولولي نو سحر کیدو پورې به اویا زره فرښتے د هغه د پاره د **بخښنې دُعا** کوي. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۴ ص۴۰۶ حدیث۲۸۹۷) (۲) نبیِّ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې د **جُمُعے** په شپه سُورَۃُالدُّخَان اولوستو د هغه **بخښنه** به اوکړے شي. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۴ ص۴۰۷ حدیث۲۸۹۸) (۳) رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې د **جُمُعے** په ورځ یا د شپې سُورَۃُالدُّخَان اولولي **اللّٰه** تَعَالٰی به په جنَّت کښې د هغه د پاره یو کور جوړوي.

(اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۸، ص۲۶۴ حدیث۸۰۲۶)

## د ”فتح“ د درېِ حُروفو په

## نِسبت د سُورَۃُالفَتح ۳ فضائِل

(۱) د حُدیبیه نه بیرته تشریف راوړو وخت کښې د مَکّے مُکَرَّمے او مدینے مُنَوَّرے په لاره کښې دا سُورت نازِل شو نو نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: نن شپه په ما باندې یو داسې سُورت نازِل شو کوم چې ما ته د دُنیا د هر څیز نه زیات خوږ دے. (صحیح الْبُخاری کتاب التَّفسیر ج۳، ص۳۲۸، حدیث ۴۸۳۳)

(۲) کوم ساعت چې د رَمَضَانُ الْمُبارَك میاشت اولیدله شي نو **سُورَۃُالفَتح** درې ځله لوستلو سره ټول کال په رزق کښې **فراخي** کیږي. کشتۍ کښې سوریدو وخت کښې وئیلو سره د ډوبیدو نه په امان کښې اوسي. لیکلے شوے ځان سره ایښودو سره به د جنګ او قِتال په وخت کښې په حفاظت کښې اوسي. (جنّتي زیور ص۵۹۶)

www.dawateislami.net

(۳) د دښمنانو په مقابله کښې فتح حاصلولو د پاره دا ۲۱ ځله اولولئ. که د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت ليدلو سره د هغې مخې ته اولوستے شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی ټول کال به امن وي. (جَنَّتي زيور ص۵۹٦)

## د "رَحْمٰن" د ځلورو حُروفو په

## نِسبت د سُوْرَةُ الرَّحْمٰن ٤ فضائِل

(۱) د حضرتِ سيِّدُنا علي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې ما د حُضُورِ اکرم نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې "د هر څيز د پاره زِينت [يعني ښائست] دے او د قُرآنِ پاك زِينت سُوْرَةُ الرَّحْمٰن دے." (اَلدُّرُالْمَنْثُور ج۷ ص٦۹۰)

(۲) د مدينے تاجدار خوږ مَدَني سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د سُوْرَةُ الحديد، اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ او اَلرَّحْمٰنُ لوستونکي ته د زمکې او آسمان فرښتو کښې ساكِنُ الفِردوس (يعني د جَنَّتُ الفِردوس اوسيدونکے) وئيلے کيږي. (اَلدُّرُالْمَنْثُور ج۷ ص٦۹۰)

(۳) د حضرتِ جابِر بِن عبدُالله رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان خوا ته تشريف راوړو او سُوْرَةُ الرَّحْمٰن ئې د شروع نه تر آخري پورې تِلاوت کړو، او ټول خاموشه پاتې شو. بيا خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زه په تاسو دا څنګه خاموشي وِينم، ما هُم دا سُورت د پيريانو د مُلاقات په شپه تِلاوت کړو نو هغوئي ستاسو نه ډير زيات ښائسته او ښکلے جواب راکړو، زه چې کله هم دې آيت ته اورسيدم. فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ نو هغوئي اووئيل: وَلَا بِشَيْءٍ مِّنْ نِّعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ يعني اے زمونږه ربه جَلَّ جَلَالُهٗ! مونږه ستا په نعمتونو کښې يو څيز هُم دروغ نه ګڼړو، ټول ثناء صِفَت تا لره دي. (اَلدُّرُالْمَنْثُور ج۷، ص٦۹۰)

(٤) سُوْرَةُ الرَّحْمٰن یوولس ځله لوستلو سره **مقصدونه** پوره کیږي، او دا سورت چې اولیکلے شي او اووِینځلے شي [یعني د دې څښت] د طُحال (یعني د توري د بیمارئ) په مریض باندې څښل ډیر **فائِده مند** دي. (جَنّتی زیور، ص۵۹۷)

## د سُوْرَةُ الْوَاقِعَه فضائل

(١) دا سُورت ډیر بَرَکتي دے. د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دے چې رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: سُوْرَةُ الْوَاقِعَه د مَرې کیدې (یعني د خوشحالئ) سُورت دے، لِهٰذا دا لوَلئ او خپل اولاد ته ئې زده کړئ. (رُوحُ الْمَعَانِي ج۷، ص۱۸۳)

(٢) حضرتِ سیِّدُنا اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د مرګ په مرض کښې اخته وو، حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ئې د تپوس د پاره تشریف یوړو او هغوئي ته ئې اوفرمائیل چې: که زه تا ته د خزانې نه څه درکړم نو څنګه به وي؟ هغوئي اوفرمائیل: ما ته د دې هیڅ حاجت نشته. حضرتِ عُثمان رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوفرمائیل: وروسته به ستاسو د لونړو په کار راشي. اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اووئیل: تاسو زما د لونړو په باره کښې د غریبئ او لوَږې ویره لرئ، ما هغوئي ته حُکم کړے دے چې هغوئي دِ هره شپه **سُوْرَةُ الْوَاقِعَه** لوَلي، ما د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے چې کوم انسان هره شپه **سُوْرَةُ الْوَاقِعَه** لوَلي هغه به کله هُم په **غریبئ** او **لوَږه** کښې نه اخته کیږي.

## د ”مَدَنـي اِنعام“ د نهو حُروفو نِسبَت د سُورهٔ مُلك ۹ فضائل

(١) د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُوهُرَیره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دے چې خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”بیشکه په قُرآن کښې په دیرشو آیتونو مُشتمِل یو سُورت دے چې هغه به د خپل لوستونکي د پاره [مسلسل] **شَفَاعَت** کوي تر دې چې د هغه بخښنه به اوکړے شي او دا تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ دے.“ (سُنَنُ التِّرمِذِی ج٤ ص٤٠٨ حدیث٢٩٠٠)

(۲) د **حضرتِ** سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے چې رحمتِ عالَم نُورِ **مُجَسَّم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: په قُرآنِ کریم کښې یو سُورت دے چې هغه به د خپل لوستونکي په باره کښې جګړه کوي تر دې چې هغه به جنَّت ته داخِل کړي او هغه هُم دا **سُوْرَۃُ الْمُلْك** دے.

(اَلدُّرُالْمَنْثُور ج۸، ص۲۳۳)

(۳) **حضرتِ** سیِّدُنا عبدُالله بِن مسعُود رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ”چې کله بنده قبر ته لاړ شي نو عذاب به ئې د ښپو له طرفه راځي نو د هغه ښپې به وائي چې ستا د پاره زما له طرفه هیڅ لار نشته ځکه چې ده به د شپې **سُوْرَۃُ الْمُلْك** لوستلو، بیا به عذاب د هغه د سینے یا خیټې له طرفه راځي نو هغه به وائي چې ستا د پاره زما له طرفه **هیڅ لار** نشته ځکه چې ده به د شپې **سُوْرَۃُ الْمُلْك** لوستلو، بیا به هغه د هغه د سر له طرفه راځي نو سر به وائي چې ستا د پاره زما له طرفه **هیڅ لار** نشته ځکه چې ده به د شپې **سُوْرَۃُ الْمُلْك** لوستلو.“ نو دا سُورت منع کولو والا دے، عذابِ قبر منع کوي، په تورات کښې د دې نوم **سُوْرَۃُ الْمُلْك** دے، ځوك چې دا د شپې لوَلي ډیر زیات او ښه عمل کوي.“ (اَلْمُسْتَدرَك عَلَی الصَّحِیْحَیْن حدیث ۳۸۹۲ ج۳ ص۳۲۲)

(٤) حضرتِ سیِّدُنا اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي چې یو صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په یو قبر خپله خیمه اولګوله مګر هغوئي ته معلومه نه وه چې دلته قبر دے خو وروسته پوهه شو چې دلته د یو کس قبر دے او هغه **سُوْرَۃُ الْمُلْك** لوَلي او پوره سُورت ئې ختم کړو. هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د رَحمتِ عالم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما په یو قبر خیمه اوتړله خو ما ته معلومه نه وه چې هلته قبر دے، مګر هلته د داسې کس قبر دے چې هغه هره ورځ پوره **سُوْرَۃُ الْمُلْك** لوَلي. ”نو رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ”هُم دا منع کوونکے دے، هم دا خلاصے ورکوونکے دے کوم چې هغه د عذابِ قبر نه **محفوظه** اوساتلو.“ (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۲، ص٤۰۷ حدیث ۲۸۹۹)

(۵) د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے چې: زما خواهش دے چې تَبٰرَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ د هر مومن په زړه کښې وي. (کَنزُ الْعُمَّال، ج۱ ص۲۹۱، رقم ۲٦٤۵)

(٦) مياشت ليدلو وخت کښې چې څوك دا سورة اولولي نو هغه به د مياشتې ديرشو ورځو پورې د سختو نه اِنْ شَآءَ اللّٰه تَعَالٰى په حفاظت کښې اوسي، ځکه چې دا ديرش آيتونه دي او د ديرشو ورځو د پاره کافي دي. (تفسير رُوحُ المَعانى سُوْرَةُ الْمُلْك ج۱۵، ص٤)

(۷) حضرتِ سيِّدُنا اِبنِ عبَّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فرمائي چې خوږ خوږ مصطفٰى مَکِّى مَدَنى آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بيشکه زه په قُرآن کښې د ديرشو آيتونو يو آيت مومم، څوك چې د اوده کيدو وخت کښې د دې (سُورت) تلاوت اوکړي د هغه د پاره به ديرش نيکئ ليکلے کيږي، او د هغه ديرش ګناهونه به وران [يعني معاف] کړے شي، او د هغه ديرش دَرَجات به اوچت کړے شي، اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت به يوه فرښته د هغه طرف ته راليږي، د پاره د دې چې هغه په هغه باندې خپلې وزرے خوَرې کړي او د هغه د هر څيز نه راويښيدو پورې حفاظت اوکړي، او دا مُجادَلَه (يعني جګړه) کوونکے دے، د خپل لوستونکي د پاره به په قبر کښې جګړه کوي، او دا تَبٰرَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ دے. (اَلدُّرُ الْمَنْثُوْر ج۸، ص۲۳۳)

(۸) د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې د آرام کولو نه مخکښې د سُوْرَةُ الْمُلك او الٓمّٓ تنزيل او اَلسَّجده تلاوت کولو.

(تَفْسِير رُوْحُ الْبَيَان، سُوْرَةُ الْمُلك ج۱۰، ص۹۸)

(۹) حضرتِ سيِّدُنا اِبنِ عبَّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يو سړي ته اوفرمائيل: آيا زه تا ته يو حديث د تُحفے په طور درنکړم چې هغې سره ته خوشحاله شے، هغه عرض اوکړو بيشکه! نو هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اوفرمائيل: دا سُورت لوَله: تَبٰرَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ او دا سُورت خپلو اهل و عيال، خپلو ټولو بچو او د خپل کور ماشومانو او خپلو ګاونډيانو ته زده کړه (يعني د دې تعليم ورکړه) ځکه چې دا نجات [يعني خلاصے] ورکوونکے دے او د قيامت په ورځ د خپل

لوستونکي د پاره د خپل رب سره **جګړه** کوونکے دے، او دا به هغه لټوي چې هغه ته د جهنَّم د عذاب نه خلاصے ورکړي او د دې په سبب به د دې لوستونکے د عذاب نه هم **خلاصے** اوموي. (اَلدُّرُالْمَنْثُوْرج۸، ص۲۳۱)

## په رمضان کښې د ګناه کوونکي د قبر خوفناک منظر!

(از شيخ طريقت، اميرِ اهلسنت،باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد اِلياس عطار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه)

منقول دي: **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت مولائے کائنات، **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی** شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم يو ځل د قبرونو د زيارت د پاره د کُوفے قبرستان ته تشريف يوړلو، هلته ئې په يو تازه قبر نظر پريوتو نو په زړه کښې ئې د هغے د حالاتو معلومولو خواهش پيدا شو، چنانچه د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: "يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! د دې مړي حالات په ما مُنکَشِف (يعني ښکاره) کړې." د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې د هغوئي دُعا فوراً قبوله شوه، او د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او د هغه مړي په مينځ کښې چې کومې پردے وې هغه فوراً لرې شوې! اوس د قبر يو ويرووونکے منظر د هغوئي په وړاندې وو! څه ګوري چې د مړي نه اور چاپيره دے او په ژړا ژړا دوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ته داسې فرياد کوي:

"يَا عَلِيُّ! اَنَا غَرِيْقٌ فِي النَّارِ وَحَرِيْقٌ فِي النَّارِ."

يعني **يا علي**! زه په اور کښې ډوب يم او په اور کښې سوَزَم . د قبر خوفناك منظر او د مړي دردناك آواز حيدرِ کَرّار كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم بے قراره کړو او هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د خپل رحمت والا **ربّ** تعالیٰ په دربار کښې لاس پورته کړل او په ډيره زياته عاجزئ ئې د هغه مړي د بخښني د پاره درخواست اوکړو. غيبي آواز راغے: "اے **علي**! (كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) د ده سفارش مه کوئ ځکه چې دې کس به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك بے حُرمتي [يعني بے ادبي] کوله، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به ئې هم ګناهونه نه پريښودل. د ورځې خو به ئې روژه نيوله خو د شپے به په ګُناهونو کښې اخته اوسيدو." حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی** شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم چې

دا واوریدل نو نور هم غمګین شو، په سجده کښې پریوتو او په ژړا ژړا ئې عرض کول شروع کړو: یا اللهعَزَّوَجَلَّ! زما عِزّت ستا په لاس کښې دے، دې کس په ډیر اُمِّید ما ته فریاد کړے دے، زما مالِكعَزَّوَجَلَّ! ته ما ده ته مه رُسوا کوے، د ده په بے وسئ رحم اوکړې او دا غریب اُوبخښې. حضرت علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم په ژړا ژړا دعاګانې کولې، چې د الله تعالیٰ د رَحمت دریاب په جوش کښې راغے او اواز راغے: "اے علي! (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم)مونږه ستا د زړه خوګیدو په سبب دے اُوبخښلو." چنانچه د هغه مړي نه عذاب لرې کړے شو. (اَنِیسُ الواعِظِین ص۲۵، ۲٦)

کیوں نہ مشکل کشا کہوں تم کو تم نے بگڑی مری بنائی ہے

څوک چې د روژے نیولو باوجود د ګناه په صورتونو مشتمل تاش، شطرنج، لډو وغیره کوي، په موبائل او آئي پیډ وغیره باندې ویډیو ګیمونه، فلمونه، ډرامے، سندرې او باجے ګوري او اوري، کِیره خرئي یا د یو مُوتي نه ئې کموي بلکه مَعَاذَ الله لـمونځونه قضا کوي، دروغ، غیبت، چُغلئ، بد ګمانئ، وعده خلافئ، کنزلو، مسلمانانو ته بِلا اجازتِ شرعي تکلیف رسولو، شرعاً حقدار نه کیدلو نه باوجود خیرات غوښتلو، د مور و پلار د نافرمانئ، د سُود او رِشوت د لَین دَین او په کاروبار کښې دوکه کولو نه هُم نه قلارېږي د هغوئي د پاره په دې بیان شوي حکایت کښې ډیر زیات عِبرت دے-

په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د ګناه کولو مُتَعَلِّق دوه نور حدیثونه اوګورئ او د الله پاک د ناراضه کیدلو نه اُویَرېږئ- (۱) چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې څه ګناه اوکړه نو الله پاک به د هغه د یو کال اعمال برباد کړي- (مُعْجَم اَوْسَط ج ۲ ص ۴۱۴ حدیث ۳٦۸۸ مُلَخَّصاً) (۲) زما اُمَّت به ذلیله او رُسوا کیږي نه تر څو چې هغه د رَمَضان د میاشتې حق ادا کوي." عرض اوکړے شو: یا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضان په حق ضائع کولو کښې د هغوئي ذلیله او رُسوا کیدل څه دي؟ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په دې میاشت کښې د هغوئي حرام کارونه کول." بیا

ئې اُوفرمائيل: چا چې په دې مياشت کښې زِنا اوکړه يا ئې شراب اوڅښل نو د راروان رَمَضان پورې الله تعالٰى او څومره چې آسماني فرښتے دي ټولې به په هغه لعنت کوي پس که دا کس د راروان رمضان حاصلولو نه مخکښې مړ شو نو ده سره به هيڅ داسې نيکي نه وي کومه چې دا د جَهنَّم د اور نه بچ کړے شي. پس تاسو د رَمَضان د مياشتې په باره کښې اويَريږئ ځکه چې څنګه په دې مياشت کښې د نورو مياشتو په مُقابَله کښې نيکئ زياتولے کيږي [يعني زيات ثواب ورکولے کيږي] هُم دغسې د ګناهونو مُعامَله هُم ده." (مُعجَم صغير ج۱. ص۲٤۸)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اُويَريږئ! د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د ناقدرئ نه د بچ کيدلو خصوصي طور کوشش اوکړئ- د **الله** پاک د رحمت نه مايوسه کيدل هُم نه دي پکار، د رحمت دروازے بيرته دي، **الله** پاک ته په زارو زارو توبه اوکړئ او ګناهونه کول پريږدئ، نيک او د سُنَّتو پابند جوړيدلو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو کښې شرکت او د سُنَّتو د تربيَّت مَدَني قَافِلو کښې عاشِقانِ رَسُول سره سفر کول کپل معمول جوړ کړئ-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې **د دعوتِ إسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدينه**" په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي.**" إن شآءَ الله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. إن شآءَ الله عَزَّوَجَلَّ






فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com